مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله اریزی ۲۰۲۳/۰۸/۰۸

# نړیوالې ټولنې

## ۷۱ برخه

سیمه ییزه ټولنې
اروپا
**پنځم څپرکی**
**سیمه ییزه ټولنې**
**د سیمه ییزه ټولنو پېژندنه Regional Association:**

سیمه ییزه ټولنې هغه دی چې د نړی په یوه لویه وچه (قاره، براعظم) یا سیمه کې جوړیږی او د همغه لویې وچې/ سیمې هېوادونه پکی غړیتوب اخیستلای شي. د دې خبرې معنی دا ده چې په یوه سیمه ییزه ټولنه کې د یوې لویې وچې/ سیمې د ټولو هېوادونو ګډون حتمي نه دی.

له هغه ځایه چې نړیوالو ټولنو نه شوای کولای، ټولو هېوادونو/سیمو ته سم خدمات وړاندی کړی، سیمه ییزه ټولنې جوړې شوې چې په یوه ټاکلې سیمه کې خلکو ته مناسب خدمات (اکثراً ځانګړی لکه د افریقا اقتصادي کمیسیون) ورسوي.

لومړنې سیمه ییزه ټولنه په امریکا (لویه وچه) کې جوړه شوی ده. له دې وروسته اروپا، آسیا او افریقا راځي. ډېری سیمه ییزې ټولنې په سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو چارو بوختی دی. په امریکا کی د سوداګرئ ونډه پکی درنه ده؛ خو په اروپا کې سیاسي – پوځي عوامل ځواکمن ښکاري لکه ناتو. په افریقا کې د د خپلواکی هلې ځلې او بیا اقتصادي او ټولنیزه ګډ کار د ډېرو ټولنو جوړېدو ته لاره پرانستې.

له دې لنډې سریزې وروسته، سیمه ییزه ټولنې په څلورو غټو برخو وېشل شوي دی:

- د اروپا او اتلانتیک سیمه ییزه ټولنې،
- د اسیا سیمه ییزه ټولنې،
- د افریقا سیمه ییزه ټولنې،
- د امریکا سیمه ییزه ټولنې،

**لومړی :د اروپا او اتلانتیک ټولنې:**

د اروپا په لویه وچه او اتلانتیک ( اتلس) سیمه کې،څو سیمهی یزه ټولنې شته چې ډیر د پام وړ کارونه یی سر ته رسولی او د خپلو اهدافو سره سم په عمومی، سیاسي، اقتصادي او پوځی برخو وېشل کېږي چې ځینی د دولتونو له استازو او ځینی د خلکو یا مقننه قوی د استازو جوړیدی.

عمومي ټولنې هغه دی چې د غړو هیوادونو تر منځ ټولی اړیکی سمبالوی؛ خو ځینی بیا داسی ځانګړی وی، چې په یوه ټاکلی سیمه/ موضوع/ یا فعالیت بوختی وی. په اقتصادی برخه کی د اروپا دا ټولنی د یادولو وړ دی:

- د اقتصادی پراختیا د همکاری ټولنه چې وروسته د اروپا له سیمی ووته،
- د ازادې سوداګرئ اروپایي ټولنهEFTA ،
- د ډېرو سکرو او پولادو اروپایي ټولنه ECTS چې په کال ۲۰۰۲ کی پای ته ورسیده،

په سیاسی برخه کی د اروپا شوری او په سیاسی-پوځی برخه کی ناتو د یادولو وړ دی. ناتو اوس د جغرافیې په حساب یوه نړیواله ټولنه بلل کېږی، او د دی کتاب د نړیوالو ټولنو په برخه کی په تفصیل خبری پری شوی دی.[1]

**۱-د اروپا شوری Council of Europe (CE):**

په ۱۹۴۶ او ۱۹۴۷ کلونو کې، په بېلابېلو اروپایي هېوادونو کې، د فدرالي اروپا ټولنې، د اروپایي لیګ ډلې، د متحدو اروپایي هېوادونو سوسیالیستي غورځنګ او د اروپا د یووالي لیبرالیست خوځښت، په شان حرکتونه د اروپا شوری جوړولو ته لار پرانیسته.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د فدراليسم پلويانو د کال ۱۹۴۸ په مې کې، په لاهه (هالند) کې يو غيردولتي کنفرانس جوړ کړ چې د اروپا کنګرې په نامه يادېږي. دې کنګرې يوه ګډه اعلاميه تصويب کړه چې څلور غټ ټکي يې درلودل: د يوې اروپا جوړول، د بشري حقونو د يو ميثاق تصويب،د اروپايي محکمې جوړول او اروپايي پارلمان.

د اروپا شورى د جوړولو تړون، د کال ۱۹۴۹ د مې په ۵ په لندن کې د فرانسې، ايرلند، بلجيم، دنمارک، ايتاليا، لوګزامبورګ، هالند، ناروې، سويډن او برتانيا د استازو له خوا لاسليک شو. د لاهه کنګرې د پرېکړې له مخې، دې نوې جوړښت ته، د اروپايي ټولنې په ځای د اروپا شورى يا CE نوم غوره وبلل شو.

اهداف: د دې شورى د اساسنامې لومړۍ ماده وايي چې دا ټولنه د هغه هېوادونو په مخ پرانستې، چې د ولسواکۍ، د بشري حقونو، د قانون د واکمنۍ او د فرهنګي ګډ کار د پراختيا له پاره هڅه کوي.

غړيتوب: دا شورى په لومړي سر کې ۱۰ غړي هېوادونه درلودل چې بنسټ ايښودونکي بلل کېږي. وروسته دې هېوادونو هم د CE غړيتوب واخست: يونان ۱۹۴۹، ترکيه او آيسلند ۱۹۵۰، لويديځه جرمني ۱۹۵۱، استريا ۱۹۵۶، قبرس ۱۹۶۱، سويټزرلند ۱۹۶۳، مالتا ۱۹۶۵، پرتګال ۱۹۷۶، اسپانيا ۱۹۷۷، لېختن شتاين ۱۹۷۸، سان مارينو ۱۹۸۸، فنلند ۱۹۸۹، هنګرې ۱۹۹۰، پولند ۱۹۹۱، بلغاريا ۱۹۹۲، استونيا، لتوانيا او سلووينيا، چکيا، سلواکيا او رومانيا ۱۹۹۳؛ آندورا ۱۹۹۴؛ لاتويا، البانيا، مولداويا، شمالي مقدونيه او اوکراين ۱۹۹۵؛ روسيه او کروشيا ۱۹۹۶، جورجيا ۱۹۹۹؛ ارمينيا او آذربايجان ۲۰۰۱؛ صربيا، موناکو او بوسنيا او هرزګوينا ۲۰۰۴ او مونتينګرو ۲۰۰۷. په دې توګه وينو چې له واتيکان او بيلاروس پرته د اروپا ټول هېوادونه په دې شورى کې غړيتوب لري.[2]

امريکا متحده ايالات، کانادا، مکسيکو او جاپان د دې شورى څارونکي دي او د کانادا، مکسيکو، اسراييل او د ترکي قبرس او فلسطين ( چې خپلواکه نه دی) د ملي شورى ګانو استازي د CE په غونډو کې برخه اخستلای شي.[3]

جوړښت:

دارالانشا: دارالانشا له منشي، مرستيال سرمنشي او يو شمېر نړيوالو کارکوونکو څخه جوړه ده. د CE سرمنشي د پارلماني ډلې Parliamentary Assembly له خوا د ۵ کلونو له پاره ټاکل کېږي. سرمنشي دنده لري چې اوږدمهاله پلانونو جوړ کاندي، د شورى کاري پلانونه مديريت کړي، بودجه تصويب ته چمتو او مالي چارې وڅاري. دا سرمنشي يو مرستيال لري چې د پارلماني ډلې له خوا به جلا ټاکنو کې غوره کېږي.[4]

د وزيرانو کمېټه: دا د CE تصميم نيونکې ځای دی چې د غړو هېوادونو د بهرنيو چارو وزيران او يا په ستراسبورګ کې د دې هېوادونو د دايمي استازولي مشرانو، پکې ګډون کوي. دا کمېټه د CE تګلارې او کړنلارې ټاکي، بودجه منظوروي او د شورى کارونه څاري.

پارلماني ډله: په دې ډله کې د ۴۷ اروپايي هېوادونو ۳۲۴ غړي شته. دا ډله د CE سرمنشي او مرستيال منشي؛ د بشري حقونو کميشنر او د بشري حقونو د اروپايي محکمې قاضيان ټاکي، ټاکنې څاري او د خبرو اترو له پاره دموکراتيکه فضا برابروي . د دې کمېټې پرېکړې الزامي نه لري؛ خو د غړو هېوادونو له تصويبه وروسته الزامي کېږي.

د ملي او سيمه ييزه مديرانو کانګرس Congress of Local and Regional Authorities:

کانګرس په ۴۷ غړو هېوادونو کې، د ملي او سيمه ييزه ولسواکۍ د ټينګولو او پراختيا له پاره زياد باسي. کانګرس دوه برخې لري. لومړی کورنې چارې او دويم سيمه. کانګرس همدا شان درې کمېټې لري چې د څه باندې ۱۵۰۰۰۰ ملي او سيمه ييزه مديرانو څخه، ۶۴۸ ټاکلي غړي سره يو ځای او همغږي کوي.

د بشري حقونو اروپايي محکمه European Court of Human Rights:

دا قضايي ارګان اروپايانو ته هغه حقونه ګرنټي کوي چې د بشري حقونو له پاره اروپايي کنوانسيون په ګوته کړي دي. دا محکمه د دولتونو او افرادو په مه پرانستې او تابعيتي تعلق ته نه ګوري. د اروپا شورى ۴۷ غړي د اروپا کنوانسيون غړي هم دي.

د بشري حقونو کميشنر Commissioner of Human Rights:

دا کميشنر ټولو هغه اقداماتو ته په خپلواکه توګه د مسوولينو پام اړوي چې بشري حقونو ته زيان رسوي.

د NGO ګانو کنفرانس Conference of NGOs:

۴۰۰ غيرحکومتي موسسې يا NGOs په دې کنفرانس کې ځای لري. دا د سياسيونو او عوامو يا خلکو تر منځ اړيکي ټينګوي او د مدني ټولنو غږ بلل کېږي او په هغه ګټو تمرکز کوي چې NGO ګانې يې د اروپا اوسيدونکو ته رسوي .[5]

نړيوال ګډ کار Global Co-operation: اروپايي شورى له اروپايي ټولنې يا EU سره په ملګرتيا کار کوي او په اروپا کې دا منشي ارګانونو او ګاونډيانو هېوادونو او له UN سره نژدې اړيکې ساتي.

فعاليتونه: د اروپا د يووالي ژمنليک (عهدنامه) (ماستريخت) د – 4D مادې له مخې، اروپايي شورى د اروپايي ټولنې يا EU د تګلارو ټاکل او د عمل ابتکار په غاړه لري او د هېوادونو د مشرانو او د بهرنيو چارو وزيرانو او د اروپا کميسيون د مشر څخه جوړه ده. د اروپايي شورى مشر دا واک لري چې د اروپايي کميسيون مشر او د اروپايي ټولنې د بهرنيو چارو وزير وټاکي. اروپايي شورى په کال کې لږ تر لږه دوه ځلې غونډه کوي او د اروپايي دولتونو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

استازي، د اروپا کورني او بهرني مسایل څېړي، په لویو سیاستونو او لومړیتوبه په نښه کوي. اروپایي شورری په کورنیو مسایلو کي کولای شي چي د ټولو اروپایي ټولنو په استازیتوب پرېکړې وکړي. EC فصلي غونډي جوړوي، د قوانینو د جوړولو واک نه لري؛ خو د اروپایي هېوادونو تر منځ د یووالي او نژدیوالي په برخه کي ډېرې هڅې کوي.
تر کال ۲۰۰۴ پوری چي د اروپا اساسي قانون نافذ شو، د دې شوری ونډه خورا د پام وړ وه؛ ځکه د اروپایي ټولني پرېکړې باید د یو نړیوال تړون په شان، د دولتونو د مشرانو له خوا لاسلیک شوي وای او دا کار به د اروپا شوری له خوا تر سره کېده. لکه د ماستریخت یا امستردام تړون چي لومړی د اروپا په شوری کي تصویب او بیا د یو نړیوال تړون په توګه د ولسمشرانو له خوا لاسلیک شو.[6]
په کال ۱۹۵۰ کي د بشري حقونو اروپایي تړون، په ۱۹۵۱ کي د اروپا د کرني ټولني جوړول، په ۱۹۵۷ کي د اختلافونو د سوله ییز حل تړون، په ۱۹۶۱ کي د اروپا د ټولنیز کړنلاره تصویب، په ۱۹۵۵ او ۱۹۷۷ کي د ترهګری ضد مبارزې په برخه کي د دوبلین او ستراسبورګ تړونونه؛ په ۱۹۸۷ کي د شکنجې، جزاګانو او غیرانساني کړنو د مخنیوي تړون؛ په ۱۹۵۸ کي د پخوانۍ معماري اثارو د ملاتړ تړون د شوری له مهمو فعالیتونو څخه شمېرل کېږي چي ټولو غړو هېوادونو لاسلیک کړي او تر اوسه نافذ دي.[7]
مقر: د CE مقر په ستراسبورګ (فرانسه) کي دی.

---

[1] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۵۴-۱۵۳

[2] coe.int/en/web
[3] coe.int/en/web
[4] coe.int/en/web
[5] coe.int/en/web

[6] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ص ۳۱۰-۳۹۸
[7] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۱۰-۳۰۸


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ